مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۸/۱۳

# د سرک د غاړې مړي،

# په کوڅو کې پراته مړي

## «سپیو ته میلمستیا»

## (غزني)

میډیا داسې وایي چې د غزني ولایت د روان جنګ په ترڅ کې درنه مرګ ژوبله شوې ده، د جنګي سیمو په واټونو او کوڅو کې مړي پراته دي او له ویرې نه يې څوک په ځای کولای نه شي. د جګړې دلایل او عاملین مالوم دي؛ خو زما ارزونه دا ده چې د جګړې د دلایلو او عواملو ډېره سلنه، د افغانانو ناپوهي او جهالت جوړوي او د همدې ناپوهۍ وجه ده چې له عظمتونو سره، سره غزني او د غزني خلک دا څو ورځې په اور کې سوزي او بدنونه يې مرمی او چرې غلبیل کوي.

اړینه نه ده چې د غزني د عظمت په تاریخ پسې کتابونه ولټوئ، **دغو** څو جملو کې يې لوستلای شئ:

«غزني د اسلامي فرهنګ او تمدن زانګو او پلازمینه،

... د غزني څرګند تاریخ له ۱۶۰۰ کاله زیات دی.

غزني تر ۳۰۰ نه زیاتي لرغوني ودانۍ، زیارتونه، مناروونه، برجونه او نور ډولا ډوله فرهنګي پانګې لري.

فکر کوم، له دغو آثارو سره، د خواخوږۍ، د هغو د اهمیت او ساتنې له پاره، په دې څو اورنیو ورځو کې، له یوې نړیوالې اعلامیې پرته، موږ خپله هیڅ ویلي نه دي.»

د جنګي ډلو د وحشت او وینو تویولو په سلسله کې، د غزني حالت، پر کابل باندې د ټوپکیانو د تسلط د پیل، د پیښو عملي تکرار دی. له پیل نه تر اوسه، د جګړې د رواني ډرامې د وینو او ِغوښو د سوزېدو ټول پیټي عام خلک پر اوږو وړي او په چوپه خوله يې پور پرې کوي.
تاریخ او پیښې تکرارېږي، خو لږ و ډېر په ځنډ او زماني واټن سره؛ راشه زما د هیواد د غمیزې پاڼې ته لږ ځیر شه او وې ګوره چې زموږ د هیواد د رواني غمیزې پر سټیژ باندې هر کال، هره میاشت، هره اونۍ، هره ورځ او لا هر ساعت تکرارېږي او دا تکرار له یوې خوا زموږ د ځینوو وطنوالو ژوند رېبي، د جګړې په بټۍ کې کبابوي او له بلې خوا د زرګونو انسانانو روح او روان ته داسې ضربه ورکوي چې رغونه يې ستونزمنه نه، بلکې نا شونې ده.
پر کابل او ټول افغانستان باندې د جهالت او ټوپکیانو د حاکمیدو د پیل په کلونو کې، د کابل په لویدز کې زما (اصف بهاند) د خپلو سترګو لیدلی حال دی چې د سیاف اتحاد اسلامي او د مزاري وحدتي وحشیانو د جګړو په پای کې د میرویس میدان او سیلو په کوڅو او واټونو کې همداسې مړي پراته وو، لکه اوس چې په غزني کې پراته دي.
د دویم لاس خبره نه، په میرویس میدان او د سیلو په کوڅو او واټونو کې مې په خپلو سترګو مړي لیدلي چې سپیو خوړل. ښایي عین کیسه اوس د غزني په کوڅو او واټونو کې، د تاریخ د یوه ترخه تکرار په ډول روان وي. په کابل کې د خپلو سترګو لیدلی حال ما په خپل یو اثر «لار ورکي لارویان» کې لیکلی او خپور کړی دی. د دې حال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

انځورولو ته مې «سپیو ته میلمستیا» (لار ورکي لارویان، بریښنایي بڼه، ۲۳ ام مخ) سرلیک ورکړی دی، دلته به یې یوه لنډه برخه راواخلم:

## سپیو ته میلمستیا:

زما پلرنی کور د کابل په اوومه ناحیه، شوروي سفارت ته ور څیرمه، د دهمرادخان په کلي کې موقعیت درلود، د جګړې له لړ غلي کیدو سره زما کشرى وررور احمد شاه بهاند له هغه ځایه زموږ د خبر اخستلو له پاره، زما کور دهبوري ته راغی، څو شیبې سره ناست وو او د جګړه ماړو د وحشت کیسې مو سره کولې. وروسته ما و ویل: ته دلته کېنه، زه به یو وار کارتې پروان ته د خپلو خُسرخیلو د خبر اخستلو له پاره ولاړشم، ده ویل:
څه اوس خو ډېرې نه شته، زه به هم درسره ولاړ شم.
په بایسکلونو مو پښې واړولې او د سیلو د شا له لارې نه په استفادې سره مخامخ د کارتې پروان دویمې برخې ته ور ننکته شوو. د هغوی د خیریت له خبریدونه وروسته بیا د دهبوري په نیت وخوځیدو. دا وار موږ جرأت وکړ او له پولیتخنیک نه تر میرویس میدانه پر غځیدلي واټ باندې مو د تګ تکل وکړ. موږ په دې نه پوهیدو چې دا هغه اشتباه ده چې کیدای شي زموږ د سر په بیه تمامه شي. خیر را وخوځیدو. سیلو ته په رسیدو سره مو زوروونکی خوسا بوی احساس کړ. لږ وړاندې مو د واټ په شا و خوا کې مړي ولیدل. ما مې وررور ته و ویل:
هلکه! په دا بل سرک به د پوهنتون پر خوا ور تاو شوو.
ده ویل:
ځوک خو نه شته درځه چې وړاندې څه پیښ شوي دي.
بس زړه نا زړه ور روان شوو. لږ وړاندې، میرویس میدان ته نا رسیده مې د لوږې ځل له پاره ولیدل چې سپیوو مړي خوړل. موږ له ډار او خواشینې سره په لمدو سترګو د دې صحنې ننداره کوله، سپیوو کله موږ ته کتل او کله یې د سیاف جان؟ او مزاري جان؟ د ترتیب کړې میلمستیا له د سترخوان نه مړی کولې؛ خو د سپیوو کتلو موږ ته یو پیغام را لیږه او موږ ته یې دا مطلب را پوهاوه.
دا ځو توري د سپیو له خوا انسانانو ته هغه مسیژ دی ـ چې د ځینو انسانانو د اعمالو په وجه ـ د انسانیت پر لمن د تور داغ حیثیت لري:

**«له تاسي انسانانو نه موږ سپي ښه یو، موږ خپل همنوع نه وژنو، نازوو یې؛ دا ستاسو همنوع دی، تاسو وژلي!**
**وژل د تاسو خوړل زموږ.**
**لیوان هم په لویه پیښه کې موږ سره ګډیږي، تاسو انسانان چې لیوانو ته داړونکي وایئ، نا سمه خبره ده. سمه یې داسې ده چې تاسو انسانان له لیوانو نه هم داړونکي او وژونکي یاستئ.**
**لیوان هم داړل کوي؛ خو د انسانانو او لیوانو په منځ کې توپیر دا دی چې لیوان خپل هم جنس باندې حمله نه کوي، وژني یې نه؛**
**مګر انسانان د خپلو ورونو له زوروولو او وژلو خوند اخلي.**
**انسانان لیوه ته وینې تویونکی او ظالم وایي او د ټولو ګناهونو بار او تهمت په لیوه ور اچوي؛**
**خو انسانانو داسې کارونه کړي او کوي یې چې لیوان ور باندې شرمیږي.**
**انسانان یو پر بل څومره ظلم کوي، مګر نوم بدي لیوان دي.**
**لیوان د ناموس مسألې ته په درنه سترګه ګوري او هیڅ کله یو د بل خور، لور او میرمنې ته په بده سترګه نه ګوري؛ دا انسانان دي چې دغه نا وړه عمل تر سره کوي.**
**د همدغو دلایلو پر بنا موږ سپیان وایو چې:**
**ښه ده چې موږ سپي او لیوان یو، نه انسانان...»**

د بویونو د څپو په منځ کې له یو عالم غمونو او ډار سره، میرویس میدان ته ورننږدي شوو. د میرویس میدان څلی د سیاف جان؟ او مزاري جان؟ دجنګیالیو تر منځ د برید کرښه وه. له څلي غربي لوري ته یو تن د پښو پر سر ناست و او ټوپک یې داسې په غیږ کې ټینګ نیولی و، لکه خپل زوی یې چې وي. موږ ته یې هیڅ و نه ویل. موږ د میرویس میدان د تیلو پر ټانک را تاوشوو. هیڅوک نه لیدل کیدل، د کبابي هراتي نومي رستورانت مخې ته ورسیدو، د کافي تولې کړکۍ او شیشې ماتې وې، موږ ویل څه ځوک نه شته؛ خو ناڅاپه د کافي له منځه غږ وشو:
«صبر کوا!»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

له کبابي هراتي نه يو تن را ووت، د وحدت، د ګوند جنګيالی و او زموږ پلټنه يې وکړه، د پلټنې په ترڅ کې يې و پوښتلو:
«کيستي، کجا موري، قوم تو چيیه؟»
او فرعي سرک ته د تللو امر يې وکړ. ده غوښتل موږه هم د سپيو خوراک کړي، ما او احمدشاه جان په سترګو کې خدای پاماني سره وکړه؛ خو د کافي له منځه نا څاپه غږ وشو:
«صبر کو!»
غږکونکی له کافي څخه د باندي را ووت، خيرن کالي، ببره ږيره، اوږدې ځنې، په خاصه فلمي ادا زموږ مخې ته ودريد، احمدشاه جان يې مخاطب کړ، ويې پوښته:
«تو امو فلم بردار نيستي؟»
احمدشاه به کله، کله د خلکو د خوښی محفلونه فلم برداري کول، نو په پټ غاړه يې ورته و ويل: استم.
جنګيالي خپل ملګري ته و ويل:
«بانيشان که برن.»
په دې ډول خدای تعالی د مرګ له کومې را ويستلو.
زما کور چې د کبابي هراتي په دری سوه متری کې موقعيت درلود، ور وخوځيدو. د رحمان بابا د ليسي په مخ کې د سرک په منځ کې يو مړی پروت و. د تودې هوا له کبله مړی ډير پرسيدلی و، يو برستن ډوله ځل يې پرې د پاسه اچولی و. د ليسي په مخ کې يو وحدتي ټوپکوال ولاړ و، د دې له پاره چې خپله قهرماني او غرور موږ ته وښي، خپل ملګري ته يې و ويل:
«پرتو، يگ لياف دګام سرې اوغان پرتو که خنک نه خوره.»

زه فکر نه کوم چې د غزني، د غزني پر اوسيدونکو او د غزني په واټونو او کوڅو کې د پرتو مړو حالت به د کابل له عين حالت نه ـ چې پاس يې د غميزې يوه برخه راوړل شوه ـ کوم توپير ولري. ملامت په لومړي ګام کې خلک دي، چې ماسم فکر لري او پر ماسمه لار باندې روان دي، بايد د خلکو په افکارو کې د يو فکري انقلاب تر بريد پوري بدلون راوړل شي.

زموږ د خلکو د ککريو په ګومبزه کې
د پوهې د ډيوې د بليدو په هيله!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ